# رُفِعَ الْقَلَمُ عن ثلاثة: عن النائم حتى يَسْتَيْقِظَ، وعن الصبي حتى يَحْتَلِمَ، وعن المجنون حتى يَعْقِلَ». "له درې ډوله خلکو څخه قلم پورته شوی دی: له ویده څخه تر هغه پورې چې راویښ شي، له کوچني څخه تر هغه پورې چې زلمی (بالغ) شي او له لیوني څخه تر هغه پورې چې په هوش راشي

له علي رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «رُفِعَ الْقَلَمُ عن ثلاثة: عن النائم حتى يَسْتَيْقِظَ، وعن الصبي حتى يَحْتَلِمَ، وعن المجنون حتى يَعْقِلَ». "له درې ډوله خلکو څخه قلم پورته شوی دی: له ویده څخه تر هغه پورې چې راویښ شي، له کوچني څخه تر هغه پورې چې زلمی (بالغ) شي او له لیوني څخه تر هغه پورې چې په هوش راشي".

[صحيح]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې له دغو درې ډوله خلکو پرته نور ټول بني آدم مکلف دي: يو کوچنی ماشوم تر هغه وخته پورې چې لوی شي او بالغ شي. او له لیوني څخه؛ هغه چې عقل یې له لاسه ورکړی وي، تر دې چې عقل یې بېرته ورته راوګرځي. او له ویده څخه تر دې چې راویښ شي. نو دوی مکلف نه دي، او ګناه ورته نه لیکل کېږي، خو د کوچني لپاره یې ښېګڼه لیکل کیږي، نه د لیوني یا ویده سړي لپاره؛ ځکه چې دوی د هغه چا په څېر نه دي چې د عبادت کولو جوګه وي، ځکه چې (پدې حالت کې) دوی شعور نه لري.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/58148

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee